پوهندوی آصف بهاند

# ټول عمر له کتاب، مطالعې او فرهنګ سره

## د استاد حبیب‌الله رفیع ژوند او فرهنګي هڅو ته یو ځغلندنظر



استاد حبیب ا لله رفیع د هېواد یو بېجوړې او په فرهنګي کارونو کې د ځانګړي سبک خاوند لیکوال، شاعر، څېړونکی او ژورنالیست دی.

استاد حبیب الله رفیع د خپل پرباره ژوند ډېره برخه فرهنګي کارونو ته وقف کړې ده. د ده آثار او ترسره کړي کارونه د دې ګواهي ورکوي چې رفیع د افغانستان ادبیاتو، تاریخ، فولکلور او د پوهنې ډګر ته بېشمېره خدمتونه کړي دي او د یوې خوځنده اکاډیمۍ حیثیت لري.

### له استاد حبیب‌الله رفیع سره زما لومړنۍ لیدنه:

ښه مې په یاد دي چې د ۱۳۵۶ کال په حمل کې د کابل پوهنتون په غني کتابتون کې مو هم د استادانو له لوري راکړل شوي ماخذونه ځکه نه شول تر لاسه کولای چې د نظر وړ کتاب به له کتابتون څخه بل محصل په پور وړی و. کوم استاد د بېنوا د اوسني لیکوال د لوستلو سپارښت کړی و، خو ما د څو اونیو تر انتظار وروسته هم تر لاسه نه شو کړای. بیا استاد ته ودرېدم او د اوسني لیکوال د نه پیدا کېدو مې ورته یاده کړه؛ نو استاد له ډېرې مهربانۍ سره مل داسې راته وویل:

«که ته کولای شې چې دا کتاب په پیسو واخلې، نو زه به د یو کتاب پلورنځي پته درکړم. ما ورته کړل:

سمه ده، نو استاد وویل:

ته به د کارته پروان په سیمه کې بهارستان سینما ته ورشې، د همدې سینما په څنګ کې یو وړوکی کتاب پلورنځی پرانستل شوی دی، هلته یې تر لاسه کړه.

زه هم له درس نه وروسته یادې پتې ته ورغلم. وړوکی دوکان، خو پاک، منظم او له کتابونو ډک، یو تن د یوه واړه میز تر شا ناست و او مطالعه یې کوله. ور ننوتلم، سلام مې وکړ، یاد شخص له خندا په ډکه خوله راته وویل:

«ځوانه ستړی مې شې!»

زما سترګې په کتابونو ورخښې شوې او اوسني لیکوال مې لټاوه، حاضر شخص راته وویل:

ښایي له پوهنتون نه به راغلی یې، نوم دې څه دی؟ څه دې په‌کار دي؟

ما ورته وویل: زه آصف نومېږم، دبېنوا صاحب اوسني لیکوال غواړمه.

ده راته کړل:

زه حبیب الله رفیع نومېږم. دا دې هم د نظر وړ کتاب.

دا له رفیع صاحب سره زما لومړنۍ لیدنه وه او وروسته بیا د زدکړو او څېړنو په لړ کې د ده له ګڼو آثارو او مقالو سره آشنا شوم.

د حبیب‌الله رفیع نوم مې هم د ډېرو استادانو له خولې اورېدلی و او ورسره مې د ده «د خلکو سندرې» کتاب هم د استاد حبیب‌الله جاج پښتونزوی له خولې اورېدلی و او د لوستلو سپارښت یې هم کړی و.

له ما نه اوسني لیکوال هېر شول، د رفیع صاحب ننداره مې کوله چې بیا یې وپوښتلم:

نور څه غواړې؟

ما ورته کړل:

ستاسو «د خلکو سندرې» مې هم په کار دي. هغه یې هم پر میز راته کېښود او دا څو جملې یې هم راته وویلې:

«ګوره ځوانه!

زه چې په تا کې له کتاب سره دا مینه ګورم، ته که په همدې ډول پرمخ ولاړ شې، تا نه یو شی جوړېږي او ښه راتلونکي دې هرکلي ته راځي.»

بیا نو د رفیع صاحب له نورو کتابونو، مقالو او شعرونو سره هم اشنا شوم. له پوهنتون څخه تر فراعت وروسته مې چې بیا په رسمي ډول د علمي کادر د غړیتوب ویاړ تر لاسه کړ او په عملي ډول مې د خپلو لیکنو او شعرونو چاپول هم پیل کړل، بیا نو د رفیع صاحب له آثارو او افکارو سره نور هم اشنا شوم او دی مې تر پخوا ښه وپېژاند.

په ۲۰۱۷ ام کال کې په تصافي ډول په کندهار کې د علامه رشاد د دولسم تلین په سیمینار کې د ګډون ویاړ را په برخه شو. کندهار ته ولاړم او رفیع صاحب هم له موږ سره په یوه الوتکه کې همدې سیمینار ته روان و، بیا هم د تصادف له مخې چې زما او د ده کوټې څنګ پر څنګ پرتې وې او په فارغ وخت کې به مو بندار سره کاوه. ما به په وطن کې د فرهنګي هلوځلو په باب له ده نه پوښتنې کولې، ده به پرته له دې چې ځواب راکړي، زه به یې پوښتلم چې تاسو په بهر کې څه کړي؟ اوس څه کوئ؟ کوم کتابونه اخبارونه سیمینارونه او څه نور فعالیتونه مو کړي دي؟



ده به ډېر ځلې زه غږولم او د هرڅه په باب به چې ما ورته معلومات ورکول، ده به داسې په مدبرانه ډول غوږ نیولی و چې ما به احساسوله چې زموږ ترسره شوي فرهنګي کارونه څومره ده ته ارزښتمن دي، څومره په مینه یې اوري او...

یوه ورځ په عینومېنه کې د هوټل په کوټه کې ناست وم څه مې لیکل چې دروازه ورو وټکېده او دې غلی راننوت، مخکې تر دې چې کیني، راته کړل یې:

بهاند صاحب دا مې څو نوي چاپ شوي کتابونه دي ورته کېناست او د هر کتاب پر یوه سپنه پاڼه یې کتاب باندې د ډالۍ په دود څه راته ولیکل او په ډېرې خوښۍ او مهربانۍ یې را ډالۍ کړل.

زه د عادت له مخې سهار وختې جګېږم. په کندهار کې د سیمینار دویمه ورځ وه چې سهار وختې د چایو سالون ته ورغلم، که ګورم رفیع صاحب تر ما مخکې راغلی و میز ته ناست و او وچه ډوډۍ یې خوړله. دوستانو ما ته ویلي وو چې که دې رفیع صاحب د وچې ډوډۍ په خوراک ولید، نو لاس به یې نیسې چې شکره یې لوړه ده، وچه ډوډۍ تاوان ورته کوي.

زه چې ورنږدې شوم په نرمه مې ورته وویل:

د وچې ډوډۍ هاضمه لږه سخته ده که یې ونه خورو، ښه به وي.

ده په لاس کې نیولې ډوډۍ بېرته کېښوده او راته وې ویل:

«په تا باندې یې هم سپارښتنه کړې ده.»

استاد حبیب‌الله رفیع یو له هغو لومړنیو فرهنګي شخصیتونو څخه و چې په جګ غږ سره یې په رسمي ډول د ایران د فرهنګي یرغل پر ضد خپل غږ جګ کړ او په رسا غږ سره یې ټولې نړۍ ته

اعلان وکړ چې ایران پر افغانستان باندې فرهنګي یرغل کړی دی او د ایران دا یرغل تر نظامي یرغل نه افغانستان ته مضر او ورانونکی دی.

**د استاد حبیب‌الله رفیع بیوګرافي:**

ما د استاد حبیب‌الله رفیع بیوګرافي د لومړي ځل له پاره د ښېنوا صاحب په اوسني لیکوال کې ولوستله. د هغې بیوګرافی یوه برخه داسې ده:

«ښاغلی حبیب الله رفیع د خدای بخښلي مولانا نصرالله نقشبند زوی دئ، او د ۱۳۶۴ هـ ق کال د کوچني اختر پر دویمه د وردګو په آبدره نومي کلي کي زېږېدلی او په قام میرخیل وردګ دئ. تحصیلات یي خصوصي او شعري قریحه یي له یولس کلنۍ څخه رابیداره شوې ده، د پښتو ژبې د آثارو د لوستلو ډېر شوقمن دئ، او د همدې مینې له کبله یې ټول وخت په پښتو لوستلو او لیکلو تېرېږي. د دارالتالیف او تاریخ ټولنې په ریاستونو کې یې مسلکي ماموریتونه کړي. د عرفان، پوهني او اریانا مجلو او د تاریخ ټولنې د نشراتو اهتمام یې کړی دئ. دوه کاله په رادیو افغانستان کي د کلیوالي خپروني د پښتو برخي مرتب او نطاق و او هم یي د هېواد له مطبوعاتو او خپرونو سره قلمي همکاری کړې دي.

په پښتو او دري لیکني کوي او له عربي څخه یي زیات شمېر مضمونونه او داستانونه په پښتو رااړولي دي. د پښتو د شعر او ادب او پښتني فولکلور سره زیاته علاقه لري او په دې لړ کې یې وخت پروخت مضمونونه او هم ځانګړي آثار لیکلي دي. اشعار یې اکثره اصلاحي، انتقادي او انتباهي دي...»

(ښېنوا عبدالرؤف، اوسني لیکوال، بشپړمتن، ترتیب او زیاتوني: مطیع الله روهیال، ۱۳۸۸ ش ـ ۲۰۰۹ ع، ۴۹۳ ـ ۴۹۹ مخونه)

په ویکي پیډیا کې هم د رفیع صاحب مفصله بیوګرافي انلاین شوې ده چې د وروستۍ لاسوهنې نېټه یې د دوه زره شلم (۲۰۲۰ ام) کال د سپټمبر څوارلسمه (۱۴مه) بنودل شوې ده. په دې بیوګرافی کې د رفیع صاحب په باب د پاملرنې وړ معلومات ځای پر ځای شوی دی چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

«حبیب الله رفیع (۱۳۲۴ ل. - ) (په انګرېزي: Habibullah Rafi) د افغانستان یو نوموتی لیکوال، شاعر او ادیب او تر څنګ یې په کابل پوهنتون کې د تاریخ او پښتو ادبیاتو په پوهنځیو کې استاد دی. ښاغلی رفیع د نصرالله نقشبند زوی دی او اصلي ټاټوبی یې د وردګو ولایت دی.

استاد حبیب‌الله رفیع پر ۱۳۲۴ لمریز کال د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ دوړي آبدرې په کلي کې د مولانا نصرالله نقشبندي کره زېږېدلی د. زده کړې یې په دیني مدرسو کې کړې. له شعر او ادب سره یې له ماشوتوب نه ډېره مینه درلوده.

هغه د افغانستان په لیکني رسنیو او خپرونو کې یو ګړندی لیکوال دی او هر ډول تاریخي، ژبنیز، ګروهیز او فلسفي لیکنې یې کړې دي. د هېواد د هرې ورځپاڼې او مجلې پاڼې چې واړوې نو د ښاغلي حبیب‌الله رفیع لیکنې به د سرلیک په توګه پکې وموندل شي. همدا رنګه که د راډیو غوږ تاو کړئ نو په یوه نه په یوه څپه کې به یې غږ اورېدونکي واوري. نوموړی په اوسني پېر کې تر ډېره بریده په ورځنیو سیاسي، ادبي او فرهنګي مسایلو خپلې څېړنیزې ویناوې وړاندې کوي او په تدریسي بحثونو کې په علمي کره کتنو رڼا اچوي. ښاغلی حبیب الله رفیع په افغانستان کې د اوسمهال د ادب د ډګر د نویو ځوانانو د روزنې په برخه کې ډېر بوخت دی. دی له هغو ځوانانو سره، چې د رسنیو نړۍ ته نوي ورغلي، په ادبي سمونو کې ډېر زیار باسي او د هغوی په فرهنګي روزنه کې یې ونده لرلې ده.

حبیب‌الله رفیع په خصوصي دیني مدرسو کې زده کړې کړې دي. سربېره پر دې د افغانستان له تعلیمي مرکزونو یې د لیسانس او تر هغې لوړو علمي کورسونو څخه سندونه تر لاسه کړي دي. همدارنګه یې د هېواد له دننه او له بهرنیو افغاني ټولنو څخه ستاینیز بري لیکونه او ستاینلیکونه تر لاسه کړي دي.

استاد له پېنځه کلنۍ څخه له خپلې اروښادې خور څخه د پښتو ژبې شعرونه او ادبي متنونه اورېدل او بیا به یې په خپله لوستل. په یوولس کلنۍ کې یې په خپله د پښتو شعرونو لیکل پیل کړل. پر ۱۳۴۰ ل کال د خپلې علاقې له امله د پوهنې وزارت د تالیف ریاست د عرفان او پوهنې مجلې د مهتمم په توګه پر مسلکي دنده بوخت شو. پر ۱۳۴۳ ل کال د تاریخ ټولنې غړی او د اریانا مجلې مهتمم شو.

پر ۱۳۴۸ ل کال د افغان ملت مجلې مسؤل مدیر شو. تر یوې دورې سیاسي بند وروسته بیرته د تاریخ ټولنې غړی شو. پر ۱۳۵۱ لمریز کال د فولکلور او ادب ریاست د فولکلور مجلې غړی. پر ۱۳۵۷ ل کال د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز غړی وو. وروسته بیا د کمونیستي دولت په راتلو له کاره کوښه شو. پر ۱۳۵۸ ل کال د کب په میاشت کې د څرخي پله په زندان کې واچول شو. پر ۱۳۵۹ کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی شو. د همدې کال په منې کې د حج په سپېڅلي سفر سعودي عربستان ته ولاړ. پر ۱۳۶۰ لمریز کال د زمري په میاشت کې د غرونو له لارې پېښور ته مهاجر شو،... د امان کتاب خپرولو مؤسسه یې جوړه کړه، د پېښور له پښتو اکاډمۍ او آریاسټډي سنټر سره همکار و.

پر ۱۳۶۴ لمریز کال په اسلام آباد کې د جهاد د ثقافتي شورا او افغان جهاد مجلې د لیکوالې ډلې غړی وو. پر ۱۳۶۵ ل کال د څه وخت لپاره په مصر کې د قاهرې د پښتو څانګې ویاند وو.

پر همدې کال په پېښور کې د جهادي څېړنو د مرکز او د (قلم) د لیکوالي ټولنې غړی وو. پر ۱۳۶۸ کال په پېښور کې د افغان لنډمهال حکومت د تاریخ ټولنې او د افغانستان مجلې د لیکوالي ډلې غړی شو. پر ۱۳۶۹ ل کال د افغانستان د کلتوري ټولنې او سپېدې مجلې د لیکوالې ډلې غړی شو.

پر ۱۳۷۳ ل کال د افغانستان د مرستو مرکز غړی وو او ورسره یې د (تلوسې) مجله هم چلوله. پر ۱۳۷۸ ل کال کاناډا ته ولاړ او پر ۱۳۷۹ ل کال بېرته پېښور ته راستون شو او په پېښور کې یې د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره جوړه کړه.

پر ۱۳۸۱ ل کال بېرته هېواد ته راستون شو او د اطلاعاتو او کلتور وزارت د فرهنګي شورا غړی شو. دا مهال نوموړی د (کلید) اونیزې سرپرست وټاکل شو. پر ۱۳۸۲ ل کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ د دایرت المعارف د مرکز رییس وټاکل شو چې اوس هم پر همدې دنده بوخت دی.

استاد حبیب‌الله رفیع د ډېرو اثارو تر څنګ، د ۸۰۰ په شاوخوا کې مقالې لیکلي دي. هغه د سلو په شاوخوا کې په علمي، ملي او نړیوالو سیمینارونو کې برخه اخیستې ده؛ دغو سیمینارونو ته یې رسالې وړاندې کړې او دفاع یې ترې کړې ده.

لیکوال حبیب‌الله رفیع ته دوې ادبي جایزې، دوه د سرو زرو مډالونه او یو د لویې جرګې مډال هم ورکړل شوی دی...
استاد رفیع د هېواد په بېلابېلو ادارو کې کار کړی دی چې د ځینو دندو نومونه یې دا دي:

پر ۱۳۴۰ کال د پوهنې وزارت د تالیف او ترجمې په ریاست کې د «عرفان» او «پوهنه» مجلو مهتمم. پر ۱۳۴۲ کال د تاریخ ټولنې غړی، د «آریانا» مجلې او د کتابونو مهتمم. پر ۱۳۴۸ کال د «د افغان ملت» جریدې مدیر. پر ۱۳۵۱ کال د فولکلور او ادب د ټولنې غړی او د «فولکلور» مجلې مدیر. پر ۱۳۵۲ کال د پښتو ټولنې غړی. پر ۱۳۵۷ کال د پښتو ټولنې غړی. پر ۱۳۵۷ کال د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز غړی. پر ۱۳۵۸ کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی...»

استاد رفیع د خپل فرهنګي ژوند په اوږدو کې ګڼآثار لیکلي دي چې ځیني منابع یې شمېر یوسلودوهځلوېښت (۱۴۲) ښیي. د دې خبرې یادول هم اړین دي چې د استاد رفیع ګڼشمېر آثار تر اوسه چاپ شوي نه دي چې شمېر یې ماته معلوم نه دی، خو د ده ډېر فعال فرهنګي ژوند ته په کتو سره سړی اټکل کولای شي چې د ناچاپو آثارو شمېر به یې هم ډېر وي، هیله ده چې رسمي او غیر رسمي مؤسسې به یې چاپ ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

د چاپ شوو آثار شمېر یې انسایکلوپیډیا څلور اویا (۷۴) ښیي. د استاد رفیع د آثارو کوم لیست چې په انسایکلوپیډیا کې خپور شوی دی، دا لست پخوا هم په میډیا کې خپور شوی و او زه په دې نه پوهېږم چې دا لست چا ترتیب کړی دی او آیا د استاد رفیع له پاره د تائید وړ دی که نه؟

د استاد رفیع د آثارو یاد لست په دې ډول دی:

۱- سکروټې (شعري مجموعه) د ۱۳۴۵کال چاپ.

۲- برېښ (شعري مجموعه) د ۱۳۴۶کال چاپ، افغان ملت،

۳- د خلکو سندرې، د ۱۳۴۹ کال چاپ، تاریخ او ادب ټولنه،

۴- د هوتکو نارې، د ۱۳۴۹کال چاپ، پښتون کتابفروشي،

۵- د پښتو پخوانی تذکرې، د ۱۳۵۰ کال د چاپ، تاریخ او ادب ټولنه،

۶- د تاریخ ټولنې کتابونه، د ۱۳۵۱ کال چاپ، تاریخ او ادب ټولنه،

۷- د جمهوریت وړمې، د ۱۳۵۲کال چاپ، پښتو ټولنه،

۸- پښتو پانګه لومړی ټوك د ۱۳۵۳ کال چاپ، پښتو ټولنه،

۹- ادبي ستوري لومړی ټوك د ۱۳۵۳کال چاپ، پښتو ټولنه،

۱۰- تېر یادونه (شعري مجموعه) د ۱۳۵۴کال چاپ، تاریخ ټولنه،

۱۱- د روښان یاد (شعري مجموعه) د ۱۳۵۵کال چاپ ، تاریخ ټولنه،

۱۲- خواجه عبدالله انصاري او د ده مناجاتونه، ۱۳۵۵، د پښتو د انکشاف ریاست،

۱۳- پښتو پانګه (دوهم ټوك) د ۱۳۵۶کال چاپ، پښتو ټولنه،

۱۴- پښتو خپروني، ۱۳۵۶کال، د پښتو د انکشاف ریاست،

۱۵- پښتوکتابښود، ۱۳۵۶کال، د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه،

۱۶- د پښتونخوا د شعر هاروبهار(ژباړه او ترتیب) ۱۳۵۶، ننګرهار مجله،

۱۷- معرفة الافغانی (سریزه او ترتیب) ۱۳۵۶، پښتو ټولنه،

۱۸- د رحمان بابا دېوان (سریزه) ۱۳۵۶، پښتو ټولنه،

۱۹- په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه ۱۳۵۶، د تاریخ او ادب ټولنه،

۲۰- د سره غره ګلونه، ۱۳۵۷، د امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۲۱- ناسیونالیزم او ملي مسایل ۱۳۵۸، افغان ملت ګوند، پېښور،

۲۲- ځوب ، ۱۳۵۸، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۲۳- ادبي ستوري (دوهم ټوك) ۱۳۵۹، د اطلاعاتو او کلتور وزارت،

۲۴- ژبپالنه، ۱۳۶۰، پښتو ټولنه، کابل،

۲۵- زريني ځانگي، ۱۳۶۰، پښتو ټولنه،

۲۶- زنځيرئ، ۱۳۶۱، پښتو ټولنه، ۱۳۶۵، پښتو اکيډمی پېښور،

۲۷- په افغانستان کې د سيدجمال الدين افغان خدمتونه، سنټرل ايشيا، پېښور پوهنتون، ۱۳۶۲کال،

۲۸- د استاد ياد، ۱۳۶۴، سنټرل ايشيا، پېښور پوهنتون،

۲۹- اورونه او ويرونه، ۱۳۶۳، امان کتاب، پېښور،

۳۰- د شمال له خوا شمال دی، ۱۳۶۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۳۱- زندان، ۱۳۶۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۳۲- د وينو بهير، ۱۳۶۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۳۳- انجام، ۱۳۶۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۳۴- تصوير، ۱۳۶۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۳۵- ورك زوی څنگه پيدا شو (سريزه او ترتيب) ۱۳۶۴، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۳۶- شاه شجاع او ببرك د تاريخ په تله کې، ۱۳۶۵، پېښور، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۳۷- د روسي ښکيلاك رنگونه او نيرنگونه، ۱۳۶۵پېښور، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۳۸- د استقلال ځلورمه جبهه (سريزه او ترتيب) ۱۳۶۵، پېښور، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۳۹- وحشيانه تېری او شرميدلي ماته، ۱۳۶۵، پېښور، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۴۰- د محمدي صاحبزاده ديوان ته ځغلند نظر، ۱۳۶۵، پېښور، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۴۱- فالنامه (د خوشال خان خټك) سريزه او ترتيب، ۱۳۶۵، پېښور پښتو اکيډمۍ،

۴۲- روښاني ليکنې، ۱۳۶۷، د ارزاني خويشکي ادبي ټولنه، پېښور،

۴۳- ړلۍ او گولۍ، ۱۳۶۸، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۴۴- افغانستان او د روسي دوستۍ داستان، ۱۳۶۸، د افغانستان د آزادو ليکوالو ټولنه،

۴۵- آواره شيدا، ۱۳۶۸، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۴۶- ملي زاويه ، ۱۳۷۶، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۴۷- ولونه ـ ولونه، ۱۳۷۶، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۴۸- د ستوريو کرونده، ۱۳۷۶، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۴۹- محمود نامه (سريزه او سمون ) ۱۳۷۷، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۵۱- مهاجرت نامه (سریزه او سمون) ۱۳۷۷، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۵۲- د بتانو هنگامه، ۱۳۷۹، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۵۳- وصیت نامه (سریزه او سمون) ۱۳۸۰، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۵۴- د تمدن سوغات، ۱۳۷۸، د اریك کتابتون،

۵۵- ارمغان تمدن، ۱۳۷۸، د اریك کتابتون،

۵۶- افغانستان لنډکی تاریخ، ۱۳۷۸، د اریك کتابتون،

۵۷- تاریخ فشردۀ افغانستان، ۱۳۷۸، د اریك کتابتون،

۵۸ - لیکونه او سرلیکونه ، ۱۳۷۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه، سویډن کمیټه،

۵۹ - نامه ها سرنامه ها ، ۱۳۷۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه، سویډن کمیټه،

۶۰- مشال، ۱۳۷۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه، سویډن کمیټه،

۶۱- مشعل، ۱۳۷۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه، سویډن کمیټه،

۶۲- تمه، ۱۳۷۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه، سویډن کمیټه،

۶۴- وو نه وو، ۱۳۷۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه، سویډن کمیټه،

۶۵ - هره نیشه د زهرو لیشه، ۱۳۷۳، آو، آر، آی،

۶۶- نښاني او تراني ، ۱۳۷۳، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۶۷- کتابونه دریابونه، (لومړی ټوك) ۱۳۷۷، د ساپي د پښتو څېړنو مرکز،

۶۸- کتابونه دریابونه (دوهم ټوك) ۱۳۷۸، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۶۹- وصیتنامه د خوشال بابا، (سریزه او ترتیب) ۱۳۷۹، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۷۰- نسبنامه، د خوشال بابا، (سریزه او ترتیب) ۱۳۷۹، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۷۱- ختکنامه، د خوشال بابا، (سریزه او ترتیب) ۱۳۷۹، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۷۲- هندوکوه نامه، د خوشال بابا، (سریزه او ترتیب) ۱۳۷۹، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۷۳۲- اخلاقنامه، د خوشال بابا، (سریزه او ترتیب) ۱۳۷۹، امان کتاب خپرولو مؤسسه،

۷۴- پښتني ودونه، د افغانستان د مرستو مرکز، ۱۳۸۱، کابل.

د ۲۰۲۵ ام کال د سپتمبر پر لسمه په تاند وېبپاڼه کې د استاد رفیع د اثارو یو بشپړ لست خپور شو چې زه کټمټ رانقلوم:

«استاد حبیب الله رفیع په ۱۳۲۴ لمریز کال د وردګ ولایت په سیدآباد والسوالۍ کې زېږېدلی دی. زده کړې یي په دیني مدرسو کې کړې. له شعر او ادب سره یې له ماشوتوبه ډېره مینه درلوده. نن د سپتمبر ۱۰ مه د استاد حبیب الله رفیع 80 کلیزه ده. کلیزه دې یې نېکمرغه وي. استاد لسګونه کتابونه لیکلي. په لاندې لیکنه کې لیکوال ښاغلي ځلاند د استاد رفیع د اثارو لیست ترتیب کړی چې استاد ته د روغې ستې او اوږد عمر په هیله یې خپروو.

**د استاد حبیب الله رفیع چاپ شوي آثار**

م. فیصل ځلاند

د استاد رفیع ټول آثار چاپ شوي دي، خو یوازې د (پښتنو تاریخ کتاب) چې د پانو شمېر یې ۷۰۰ ته رسېږي لا نه دی چاپ شوی او نېږدې وخت کې به چاپ شي.
دلته یې د ټولو آثارو نومونه خپروم هیله ده تر لاسه یې کړې او ویې لولئ.

**لومړی: شعري ټولګې:**

۱ــ سکروټې، د ۱۳۴۵ کال چاپ
۲ــ بربښ، افغان ملت ۱۳۴۶کال
۳ ــ د جمهوریت ورمې، پښتو ټولنه، ۱۳۵۶
۵ــ اې هېواده! اې هېواد! پښتو ټولنه، ۱۳۵۶کال
۶ــ ځوبْ، امان کتاب خپرولو مؤسسه، پېښور، ۱۳۵۸ کال
۷ــ اورونه او ویرونه، امان کتاب خپرولو مؤسسه،۱۳۶۳ کال
۸ ــ ږلۍ او ګولۍ، امان کتاب، ۱۳۶۳ کال
۹ــ ولونه ولونه، امان کتاب، ۱۳۷۶ کال
۱۰ ــ د ستوریو کرونده، امان کتاب، ۱۳۷۶

**دویم: فلکلوري څېړنې:**

۱۱ــ د خلکو سندرې (پر اولسي ادب څېړنه)، د تاریخ او ادب ټولنه، افغانستان اکاډمي، ۱۳۴۹ کال
۱۲ــ د هوتکو نارې، پښتون کتابفروشي، ۱۳۴۹کال
۱۳ ــ پښتني ودونه، د افغانستان د مرستو مرکز، ۱۳۸۱ کال

**دریم، ادبي څېړنې:**

۱۴ ــ د پښتو پخوانۍ تذکرې، د تاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۵۰ کال
۱۵ ــ ادبي ستورې، لومړی ټوک، پښتو ټولنه، ۱۳۵۳ کال
۱۶ ــ د سره غره ګلونه، د امان کتاب، ۱۳۵۷ کال
۱۷ــ ادبي ستورې، دوهم ټوک، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۵۹ کال
۱۸ــ زرینې ځانګې، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۰ کال
۱۹ــ د استاد یاد( د علامه حبیبي ژوند لیک) پېښور پوهنتون، ۱۳۶۴ کال
۲۰ ــ د محمدي صاحبزاده پر دېوان یو ځغلند نظر، امان کتاب، ۱۳۶۵ کال
۲۱ــ روښنایي لیکني، ارزاني خویشکي ادبي ټولنه، ۱۳۶۵ کال
۲۲ــ آواره شیدا ـــ امان کتاب، ۱۳۸۶ مال
۲۳ــ رحماني خم ـــ د ختیځ د لیکوالو او ژورنالستانو ټولنه، ۱۳۸۷ کال
۲۴ ــ ادبي څېړنې، امیري خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۲ کال
۲۵ــ ادبي ګروېږنې مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ کال
۲۶ ــ هغوی چې بیا نه راځي، د کوټې پښتو اکیډمي، ۱۳۹۴ کال
۲۷ــ زندان خوږلي ادیبان، د افغانستان قلم ټولنه، ۱۳۸۳ کال

**څلورم، کتابپېژندنه:**

۲۸ــ د تاریخ ټولنې کتابونه، د تاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۵۱ کال
۲۹ ــ پښتو پانګه، لومړی ټوک، پښتو ټولنه، ۱۳۵۴ کال
۳۰ ــ پښتو پانګه، دویم ټوک، پښتو ټولنه، ۱۳۵۶ کال

۳۱ــ پښتو کتابښود، د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه، ۱۳۵۶ کال
۳۲ــ د وړمو نخښي، د افغانستان کلتوري ټولنه ۱۳۷۱ کال
۳۳ــ ولي (هغه لغت چې ۳۳ معناوې لري) ، په پوهنه مجله کې پر له پسې خپور شوی، ۱۳۴۳ کال
۳۴ ــ ژبپالنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۰ کال
۳۵ــ زنځیری، د افغانستان علومو اکاډمي، ۱۳۶۱ کال.
۳۶ ــ په پښتو کې معدوله واو، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۸۴ کال.
۳۷ــ ژبساتنه، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ کال

**شپږم: تاریخي سپړنې:**

۳۸ ــ پښتو خپرونې( د پښتو ژورنالېزم تاریخ) د پښتو د پراختیا او پرمختیا ریاست، ۱۳۵۶؛ دویم چاپ: مومند خپروندویه ټولنه: د سرحدونو او قبایلو وزارت، ۱۳۹۴ کال
۳۹ ــ په افغانستان کې د ژورنالېزم تاریخچه( له کاظم آهنګ سره ګډ اثر) تاریخ ټولنه، ۱۳۵۶؛ دویم چاپ: مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ کال
۴۰ ـ په افغانستان کې د سید جمال الدین افغان خدمتونه، پېښور پوهنتون ۱۳۶۲ کال
۴۱ــ افغان او د روسي دوستۍ داستان( د زکي الله خان نامه)، د افغانستان د آزادو لیکوالو ټولنه، ۱۳۶۸ کال
۴۲ــ د تمدن سوغات، (په افغانستان کې د عصري اختراعاتو دودېدل) داریک کتابتون، ۱۳۷۸ کال.
۴۳ ــ ارمغان تمدن (د همدې کتاب دري ژباړه) داریک کتابتون، ۱۳۷۸ کال.
۴۴ ــ د افغانستان لنډکی تاریخ، داریک کتابتون، ۱۳۷۸ کال.
۴۵ ــ تاریخ فشردۀ افغانستان، داریک کتابتون،۱۳۷۸ کال.
۴۶ ــ سید جمال الدین افغان و افغانستان، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، ۱۳۸۳ کال
۴۷ــ هینداره (د عصري صنایعتو بهیر) د وردګو ولایت خپرونه، ۱۳۸۸ کال.
۴۸ ــ نندارتون (د افغانستان د تاریخي تحولاتو ځینې برخې) رفیع کلتوري اودمدني ټولنه، ۱۳۹۰ کال.
۴۹ــ د افغانستان بانک نوټونه، ځواکمن، ۱۳۹۰ کال.
۵۰ بانکنو تهای افغانستان، توانا، ۱۳۹۰ کال.
۵۱ ــ د افغانستان کابیني، ځواکمن،۱۳۹۰ کال.
۵۲ ــ کابینه های افغانستان، توانا،۱۳۹۰ کال.
۵۳ ــ لویه جرګه، امان کتاب ۱۳۸۱ کال.
۵۴ ــ په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې پیل پرمختیا، د افغانستان د مطالعاتو مرکز، ۱۳۷۷ کال.
۵۵ ــ په افغانستان کې د ښځینه زده کړو تاریخي بهیر، د افغانستان ددمطالعاتو مرکز، ۱۳۷۵ کال.
۵۶ ــ د زمانې پلونه، میهن خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱ کال.
۵۷ ــ هوتکي غورځنګ، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۹۵ کال.

**اووم: تحلیلي لیکنې**

۵۸ ــ ناسیونالیزم او ملي مسایل، اسد ګوند، ۱۳۵۸ کال.
۵۹ــ شاه شجاع او ببرک د تاریخ په تله کې، امان کتاب، ۱۳۶۴ کال.
۶۰ ــ د روسي ښکېلاک رنګونه او نیرنګونه، امان کتاب، ۱۳۶۵ کال.
۶۱ ــ وحشیانه تېری او شرمېدلې ماتې، امان کتاب، ۱۳۶۵ کال.
۶۲ ــ ملي زاویه، امان کتاب، ۱۳۷۶، دویم چاپ: رفیع ادبي ټولنه، ۱۳۸۹ کال
۶۳ ــ کتابونه دریابونه (لومړی ټوک) د ساپي د پښتو څېړنو مرکز، ۱۳۷۷ کال.
۶۴ ــ کتابونه دریابونه (دویم ټوک) امان کتاب، ۱۳۷۸ کال.
۶۵ ــ د بتانو هنګامه، امان کتاب، ۱۳۷۸ کال

۶۶ ـ دوې طرحې، امان کتاب، ۱۳۷۹ کال.
۶۷ ـ ملي شورى، امان کتاب، ۱۳۹۴ کال.
۶۸ ـ ملي کرښه، امان کتاب، ۱۳۹۴ کال.
۶۹ ـ ملي مخه، ملي موخه، اکسوس کتابپلورنځی، ۱۳۹۴ کال.
۷۰ـ ملي نړى ليد، د افغانستان ملي تحريک، ۱۳۹۴ کال.
۷۱ ـ او سپېدې وچاودې، ۱۳۹۴ کال.
۷۲ ـ د لارې ډالى، ۱۳۹۴ کال.
۷۳ ـ شپاړسم روس (لنډې کيسي) اميري خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۲ کال.
۷۴ ـ د پښتونخوا د شعر هاروبهار ـ ډار مستټر ( سريزه، ژباړې) پښتو ټولنه، ۱۳۵۶ کال.
۷۵ ـ د پير محمد کاکړ ديوان (سريزه) دانش خپرندويه ټولنه.
۷۶ ـ معرفة الافغاني، د پير محمد کاکړ (سريزه او سمون) ننګرهار مجله، ۱۳۵۶ کال.
۷۷ـ د احمد شاه بابا ديوان (سريزه) دانش خپرندويه ټولنه.
۷۸ ـ د عليخان ديوان، پښتو ادبي مرکز، سرای نو رنک، ۱۳۸۶ کال.
۷۹ ـ د رحمان بابا ديوان( سريزه، پښتو ټولنه) ، ۱۳۵۶ کال.
۸۰ ـ ورک زوی څنګه پيدا شو؟، د اخوند احمد (سريزه او سمون) امان کتاب، ۱۳۶۴.
۸۱ ـ د استقلال څلورمه جبهه، د عبدالخالق اخلاص( سريزه، سمون نښلونې) امان کتاب، ۱۳۶۵، بل چاپ ۱۳۸۱، دريم چاپ د استقلال امانيه په نامه ـ د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۸۹ کال.
۸۲ ـ فالنامه (خوشحال خان خټک) پښتو اکيډمي، پېښور، خوشحال ريسرچ سيل، ۱۳۶۵، بل چاپ: امان کتاب، ۱۳۷۹کال.
۸۳ ـ وصيتنامه (خوشحال خان ختک) امان کتاب، ۱۳۷۸ کال.
۸۴ ـ نسبنامه (خوشحال خان خټک) سريزه او سمون، امان کتاب، ۱۳۷۹ کال.
۸۵ ـ خټکنامه( خوشحال خان خټک) سريزه او سمون امان کتاب ۱۳۷۹ کال.
۸۶ ـ هندو کوهنامه( خوشحال خان خټک) سريزه او سمون، امان کتاب، ۱۳۷۹ کال.
۸۷ ـ اخلاقنامه (خوشحال خان او صدرخان) سريزه او سمون، امان کتاب، ۱۳۷۹ کال.
۸۸ ـ ساعتنامه (خوشحال خان خټک) سريزه او سمون، امان کتاب، ۱۳۷۹ کال
۸۹ ـ محمودنامه (ريدي خان مومند) سريزه او سمون، امان کتاب، ۱۳۷۷ کال.
۹۰ ـ هوتکنامه (عبد الغفار هوتک) سريزه او سمون، امان کتاب، ۱۳۷۹ کال.
۹۱ ـ مهجرتنامه (عبد الرحيم هوتک) سريزه،سمون او ژباړه، امان کتاب، ۱۳۷۷ کال.
۹۲ ـ حاکميت قانون در افغانستان (اعليحضرت امان الله خان) سريزه او نښلونې، امان کتاب، ۱۳۷۹، بل چاپ د تفتيش کندهار په نامه، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، ۱۳۸۹ کال.
۹۳ ـ د واصل روښاني الفنامې، سريزه او سمون، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۸۸.
۹۴ ـ دبير دانش (شاد محمدخان) سريزه، سمون او نښلونې، پښتو اکيډمي، پېښور، ۱۳۷۲کال.
۹۵ ـ خواجه عبد الله انصاري او د ده مناجاتونه، (سريزه او ژباړه) د پښتو د پياوړتيا او پرمختيا رياست، ۱۳۵۵؛ بل چاپ د لويه خدايه په نامه، يونيورسيټي بک ايجنسي، ۱۹۹۲ کال.
۹۶ ـ سپېڅلى قرآن (د قرآن روانه پښتو ژباړه) د هيئات غړى، مکتب حبيبيه، ۱۳۸۸
۹۷ ـ د حج کتاب (روان فرهادي) ژباړه او زياتونه، ۱۳۵۹ کال
۹۸ ـ کال د روښان ياد د مقالو ټولګه، پښتو ټولنه، ۱۳۵۵ کال.
۹۹ـ پير محمد کاکړ (ژوند او شاعري) له پسرلي صاحب سره، ۱۳۹۴ کال.
يولسم: د ماشومانو لپاره:
۱۰۰ ـ ليکونه سر ليکونه، امان کتاب، ۱۳۸۶ بيا ګڼ نور چاپونه د نړيوالو مؤسسو له خوا،
۱۰۱ـ نامه ها سر نامه ها، امان کتاب، ۱۳۵۳، سوېډن کميټه او نورې نشراتي مؤسسې.
۱۰۲ ـ مشال، امان کتاب، سويډن کميټه، لومړی چاپ ۱۳۷۳، ( بيا ګڼ چاپونه).
۱۰۳ـ مشعل، امان کتاب او نور، ۱۳۷۳ کال.

۱۰۴ـ تمه( ډرامه) له عربي په پښتو ژباړه، امان کتاب ۱۳۷۳ کال.
۱.۵ ـ طمع (ډرامه) له عربي په دري ژباړه، امان کتاب، ۱۳۷۳ کال.
۱۰۶ـ وو نه وو (منظومې کیسې) امان کتاب، سویډن کمېټه، ۱۳۷۳ کال.
۱۰۷ ـ هره نېشه، د زهرو لېشه، (نظم او نثر) او، آر، اې، ۱۳۷۳ کال
۱۰۸ ـ نښانې او ترانې، امان کتاب، ۱۳۷۳.
۱۰۹ ـ رنځوره نجلۍ (له انګریزي ژباړې سره) ده میرسي افغانستان، ۱۳۸۶ کال
۱۱۰ ـ مصنوعي ژباړه (له انګریزي ژباړې سره) ده میرسي افغانستان، ۱۳۸۶ کال
۱۱۱ـ داسې د وربښمو چینجی چې په شمېرو پوهېږي، د ساپې د موقو فاتو اداره، ۱۳۸۶ کال.


یوولسم: متفرق

۱۱۲ـ (او بالاحصار ننداره کوله) په انګریزي ژبه، امان کتاب، ۱۹۸۹کال.
۱۱۳ـ خیر البیان (سریزه) د پښتو ادبي مرکزه، سرای نورنګ، ۱۹۸۶ کال.
۱۱۴ ـ شهید محمود، د جهادي څېړنو مرکز ۱۹۹۰ کال.
۱۱۵ـ ډاکټر لودین، د صحي او اجتماعي مرستو اداره، ۱۹۹۰ کال.
۱۱۶ـ کابل د آزادۍ پر لور، ۱۳۶۸ کال.
۱۱۷ ـ د افغانستان د خلکو د جهاد اولسي ادبیات، د مصر په عربي جمهوریت کې د افغانستان د جلالتمأب سفیرف، فاضل په زیار، قاهره، ۱۳۹۴ کال.»

یوځل په میډیا کې د استاد رفیع د مړینې خبر خپور شو، خو ژر ببرته ناسم وخوت او وویل شول چې: استاد رفیع ژوندی دی، د خدای شکر مو ادا کړ. په هماغه وخت کې یې افغان ادبي بهیر د ۲۰۲۳ م کال د اپریل په وروستۍ اونۍ کې په کابل کې کلیزه ولمانځله او خپله خبرتیا یې داسې خپره کړه:

«خدای مو راوله یارانو!
افغان ادبي بهیر پتېیلې چې سبا د پښتو ژبې د بې جوړې لیکوال او څېړونکي استاد حبیب الله رفیع ۸۰ یمه کالیزه ونمانځي. په یاده ناسته کې به د علومو اکاډمۍ غړي، د پوهنتون استادان او یو شمېر نور کره کتونکي د استاد رفیع پر ژوند، نښیرونو او ادبي هڅو وېناوې وکړي.

له تاسو هم هیله کیږي چې راشئ او په خپل ګډون سره مو غونډه لا رنګینه کړئ.
اړیکې شمېرې:
۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
۰۷۷۲۴۵۷۹۵۵
۰۷۷۵۱۲۶۶۲۴
یادونه: ګډون ازاد دی.»




## استاد حبیب‌الله رفیع د نورو قلموالو د نظریاتو په هنداره کې:

د رفیع صاحب د علمي شخصیت او فرهنګي کارونو په باب په بېلابېلو وختونو او ځایونو کې ګڼو قلموالو او د نظرخاوندانو خپل نظریات څرګند کړي دي، ما د ځینو قلموالو نظریات راخوندي کړي دي، دلته یې له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

عتیق‌الله اعظمي:

استاد رفیع خپل ټول عمر له پښتو ځار کړی، د پښتو لیلا ناوې د سینګار لپاره یې شپه او ورځ یوه کړې او کار یې کړی، که د پښتني فرهنګ څېړنې یو ژوندی، دقیق او علمي ادرس لرو هغه استاد رفیع دی.

که د فلکلور څېړنې، ادب څېړنې، لرغونڅېړنې او حتا فرهنګي تاریخ یوه ژوندئ اکاډمي لرو هغه استاد رفیع نومیږي.

پر پښتو ژبې د استاد رفیع ډېر احسانونه دي، نو پښتو خو به خود وايي:

په تا دې هېڅ نه کیږي یاره

استاد ته د روغ صحت دعا کوم او پښتانه دې خدای د دغه بې ریا عالم له سیورې نه بې برخې کوي.

عصمت قانع:

«نن دوې سوژې ذهن ته راغلې
دپخواني جمهور رئیس حامد کرزي دعمر ۶۷ کالونه پوره شوي وو

او دافغانستان دملي شرف دتعبير دخوب يو كمزورى او مريض تعبيرونكى حبيب الله رفيع اتياكلن شوى وو
ماته تر هر چا حبيب الله رفيع رفعت او لوړتيا درلوده
استاد حبيب الله رفيع لكه څنګه چې رفيع تخلص كوي همدومره رفعت او لوړتيا يې ساتلي وه
زه نوى ځوان وم دپېښور په كوڅو كې مې دجهاديانو دباچاهي او خاني تماشه كوله
زما په شمول ټول قلموال دتنظيمونو پر حلوا بونيدل
خو تنها حبيب الله رفيع وو چې دتنظيمونو دروازه يې نه ټكوله
او دافغانستان دوحدت سرېنده يې غږوله
كه څه هم دې سرېندې ته جهادي ذوق غوږ نه نيولو
خاطره لرم
كله چې مو سيد بهاء الدين مجروح دپېښور دغريب اباد په هديره كې پر لحد سپارلو
هيڅا هم دپاكستان دځار په وجه طبعي ژړا نه شواى كولاى
خو تنها رفيع صاحب دوجدان دلوړتيا او رفعت پر لوړه غونډۍ بېدريغه وژړل
رفيع صاحب دديموكراسۍ پر كرسۍ هم دملي تعريف داخلاقو په حكم دمه ونه كړه
نه ارګ ته ورغئ او نه دامتياز دصف ګلبرګ ته
فقير او بېنوا پاتي شو
خو رفيع او سرلوړى
ستر حبيب الله رفيع ته دي په پرديسۍ او بيوسۍ كې دژوند اتيايمه كليزه مباركه وي
رفيع صاحب قرضداره دې يم»

احمدولي اڅكزى:

«احمدولي اڅكزي د خپلو نورو فرهنګي خدمتونو په لړ كې دا هم غوښتل چې هر ډول پښتو مواد په ډيجيټل توګه د نړۍ له هر كونج څخه د انټرنټ په مرسته د لاسرسي وړ وګرځي. دا كار ده پيل كړ او د افغانستان د علومو اكاډيمۍ د خپروكړو كتابونو په برخه كې د استاد رفيع د علكي مينې او مرستې يادوه داسې كوي:

«... دا چې زه آلمان كې وم نو ماته معلومه وه چې د چاپ د حقونو موضوع جدي ده. له دې كبله مخكې له دې چې زه پښتو قاموسونه آنلاين كړم، نو ما وغوښتل چې د علومو د اكاډمۍ لخوا چاپ شوو قاموسونو د ډيجټل او آنلاين كولو رسمي اجازه ترلاسه كړم.
زما او د پروژې خوشقسمتي وه چې مخكې له دې چې زه لكه له نورو دروازو مايوسه شم او دغه پروژه په خپله نطفه له غورځېدو مخكې لا مړه شي، زما تماس د محمد نبي تدبير صاحب په منځګړيتوب د قدرمن محترم فاضل او زما محسن استاد حبيب الله رفيع سره وشو. هغه د علومو په اكاډمۍ كې په اړونده څانګه كې كار پيل كړى و. دغه عظيم انسان او د پښتو ژبې محسن په مشرانو كې لومړى كس و چې زما په خبره يې اعتبار وكړ او لا مهم د پښتو د ډيجيټلايز كولو د اړتيا زما دلايل يې درک كړل.
فاضل استاد د كابل د درنې علومو اكاډمۍ او زما ناچيز تر منځ يو داسې قرارداد يا تړون راوكړ چې په پايله كې يې ماته اجازه راكړله شوه چې زه د دغې اكاډمۍ ټول پښتو قاموسونه ډيجيټل او آنلاين كړم. هغه شرايط چې په ياد تړون كې پر ما ايښودل شوي ول، الحمدلله زه تر نن پورې ورته ژمن پاته شوى يم.
د پښتو ژبې د بې ساري خادم استاد رفيع عمر اتيا كالو ته ورسېد. دا چې هغه د پښتو ادب او متن پوهنې لپاره څومره لوى لوى خدمتونه كړي دي، په هغه خو به تاسو ټول خبر واست. دا چې هغه د پښتو د ډيجيټلايز كولو اهميت څومره وختي نه يوازې درک كړى و، بلكه په عمل كې يې ورسره دومره لويه مرسته كړې وه، په هغه هكله دا دى ما نن معلومات درسره شريک كړل.

الله دې استاد رفيع ته له خوښيو، روغتيا او لا نورو برياليتوبونو ډک ژوند ورکړي. الله دې ورته په دنيا او آخرت کې د پښتو ژبې سره کړې مينې، وفا او خدمت عوضونه ورکړي. آمين
فاضل استاده، ستا له احسان څخه او پر یو زلمي د دومره لوی اعتبار څخه ډېره ډېره زياته مننه.
احمد ولي اڅکزی، د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر ۲۵مه نېټه»

عبدالهادي هادي:

«استاد حبيب الله رفيع تر نيمې پيړۍ زيات د افغانستان ادبياتو، تاريخ او علم ته خدمت کړی او د ژوندي پوهنتون حيثيت يې خپل کړی.»

محمداسماعيل يون:

«د پښتو ادب يوه ژوندۍ اکاډمي
د پښتو ادب ، د څېړنې ، پلټنې او شننې په برخه کې ډېرو پوهانو خپل زيار ګاللی او ډېر علمي خدمات يې وړاندې کړي دي ، خو په تېره نيمه پيړۍ کې د استاد حبيب الله رفيع او استاد سرمحقق زلمي هېوادمل خدمتونه د ځانګړې يادونې او قدرونې وړ دي.دوی دواړه بيا د ژونديو او ګرځنده اکاډميو حيثيت لري، دواړه ملګري هم دي او دواړه دې خدای تر ډېره ژوندي لري. دا څو موده کېږي چې د استاد حبيب الله رفيع د سختې ناروغۍ خبرونه خپرېدل ان د مړينې دروغجن خبر يې هم د رسنيو په څپو خپور شو ، چې زموږ د ټولو هېوادوالو ، په تېره بيا د فرهنګيانو زړونه يې سخت ودردول ، خو د خدای ج فضل و ، ډېر ژر د استاد د روغتيا خبرونو زموږ زړونه بېرته خوشاله کړل. نن مې ښاغلي تدبير ته زنګ وواهه چې د استاد د روغتيا پوښتنه وکړم او يا يې له نږدې ليدو ته ورشم. تدبير صيب وويل چې استاد ښځې ښه دی څنګ کې مې دی او وايي که تلوېزيون کې يې موږ دې ليدو ته درځو ، ما ويل استاد د ګرځېدو دی ؟ تدبير وويل هو ښځې ښه دی ، ګرځېدل ورته ښه دي او کور کې يې زړه هم تنګ وي ، ډاکټر ورته ويلي چې څومره ګرځېدلی شي ګرځه ، ما ويل بيا خو ښځې ښه ده ، دلته به لږ پلی هم وګرځي.
نيم ساعت وروسته دواړه ژوندون تلوېزيون ته راغلل ، د استاد په ليدو ډېر خوشاله شوم ، لکه څوک چې د کلونو ورک او اوبو وړی عزيز او قريب بيا ژوندی او له نږدې وګوري. د استاد نوراني څېرې او پر ځان باور ډېر خوند راکړ. ښه اوږد ادبي بنډار مو وکړ، بيا ما او تدبير صيب د هغه علمي سيمينار او غونډې طرحه له استاد سره شريکه کړه چې ټاکل شوې وه د استاد تر ناروغۍ وړاندې دا علمي غونده جوړه شوې وای ، خو د استاد د ناروغۍ له امله وځنډېدله.له نېکه مرغه چې استاد زموږ له طرحې سره موافقه وکړه ، نو څکه مو وپتيېله چې ډېر ژر د استاد د ژوند ، خدمتونو ، اثارو او افکارو په باب يوه درنه علمي غونډه جوړه کړو.
نن مازيګر ډېر خوږ و، يو درونډ استاد ، د پښتو ادب يو لوی خدمتګار او د ملي فکر يو ستر مبلغ مې په خپلو سترګو روغ رمټ وليد او د زړه سترګې مې پرې خوږې شوې، خدای ج دې د استاد صحت نور هم پسې ښه کړي او اوږد عمر دې ور په برخه کړي.»

شريف‌الله دوست سرواني:

«استاد په شپاړس کلنی کبنې علمي او عملي فرهنګي هڅې پيل کړي تر دا مهاله يې شاوخوا 200 آثار ليکلي.
د افغانستان له پاره يې علمي, ادبي,تاريخي او فوکلوريک خدمتونه د قدرداني وړ دي. زما هره ورځ مخامخ لاربنود استاد دی,ډېر څه مې ورڅخه زده کړي دي د احسان يې قرضدار يم.

عمر يې اوږد رمټ صحت يې په برخه.»

استاد دمګړی د کاناډا په کلګري ښار کبنې استوګن دی»

خالق رشيد:

«داستاد رفیع صاحب کالیزه دې مبارکه وي!

د هغه لوی انسان کالیزه چې ټول عمر او قلم یې دخواږه او سرلوړي افغانستان دتاریخ، فرهنګ او ادب دپرتم پیژندنې له تلپاتې ویاړ سره مل اوملګرې شو.

دهغه لوی لیکوال کالیزه چې دهیواد سرلوړي یې په ازادۍ کې ولیدله او ویې ستایله، دهغه لوی انسان لیکوال کالیزه چې زموږ دتیرو نسلونو علمي او ادبي میراثونه یې په خپلو نه ستړي کیدونکو هڅو سره زموږ په وړاندې په خپل ټول پرتم سره په نښه اوکینودل...

هو، دهغه لوی انسان کالیزه چې سلګونه علمي او ادبي اثار یې د علومو په بیلا بیلو برخو کې زموږ په کتابتونو کې زموږ لار ښود شول اوموږ ونه شوای کولای چې د زماني په نادان چل ول کې د ده قدر دانی وکړو...

هو، دهمدغه لوی انسان درنه او ویاړلې کالیزه دې مبارکه وي!

استاد ته له لوی خدایه داوږده اوپرتمین عمر او روغتیا هیله من یم ....

**دپښتو دامیل ګله هنګامي به درته بولم**
**دغوټیو ارزو ګانو تراني به درته بولم»**

د استاد رفیع د ژوند او فرهنګي کارونو په باب یومستند (د زرینو پاڼو په لټه، د استاد رفیع د ژوند او کار مستند) هم جوړ شوی دی، چمتوکونکی یې محبوب‌الله‌خان دی او افغان هنر پرودکشن تولید کړی دی. مینه‌وال کولای شي په لاندې لینک کې یې وګوري:

https://www.youtube.com/watch?v=6BZ9UZ4HIl8

**استاد حبیب‌الله رفیع ته له ښې‌روغتیا سره**

**د اوږده پرباره ژوند هیله کوم!**

**زموږ انګلیسي ویبپاڼه:**

Donate Here